د حزب التحریر
ولایه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

شنبه 9 ذی‌الحجه، ۱۴۴۵هـ ۲۰۲۴/۰۶/15م گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۴۵/29

## مطبوعاتي اعلامیه

## حزب التحریر – ولایه افغانستان ټولو مسلمانانو ته د لوی اختر مبارکي وړاندې کوي او د دیني مراسمو وحدت شرعي اصل ګڼي

اَللّهُ اَكْبَرُ اللّهُ اَكْبَرُ ، لَااِلَهَ اِلَا اللّهُ وَاللّهُ اَكْبَرُ، اَللّهُ اَكْبَرُ وَ لِلّهِ الْحَمْدُ

د حزب التحریر ـ ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر د لوی اختر د رارسېدو په مناسبت ټولو مسلمانانو ته مبارکي وایي. تر څنګ یې د الله سبحانه و تعالی له درباره په اخلاص دعا کوو چې د ټولو مسلمانانو طاعتونه، عبادتونه، مبارزې او قرباني په خپل رحمت سره قبول کړي او حج یې مبرور وګرځوي.

اختر د نړۍ د مسلمانانو تر منځ د خوښۍ، خوشالۍ او وحدت مظهر دی. له بده مرغه سږکال لوی اختر په مختلفو خاورو کې په مختلفو ورځو لمانځل کېږي. لکه د افغانستان حاکم نظام چې د یکشنبې ورځ عرفه او دوشنبه یې د اختر لومړۍ ورځ اعلان کړې ده، په داسې حال کې چې په ډېرى نورو اسلامي خاورو کې د مسلمانانو د شهادت پر بنسټ د شنبې ورځ عرفه او یکشنبه به د قربانۍ د اختر لومړۍ ورځ وي.

په دیني مراسمو کې اختلاف ستره فتنه ده چې د افغانستان مسلمان ولس یې د خپل شرعي تکلیف په ترسره کولو کې له لار ورکۍ سره مخ کړی دی. په داسې حال کې چې د حاکم نظام ډېرى مقامات د حج په مراسمو کې ګډون لري او پخپله هم په عرفات کې د حاجیانو له وقوف او عرفې له ورځې څخه خبر دي. نو پوښتنه دا ده چې دغه مقامات د خپلې فتوا پر اساس عرفه او اختر لمانځي که د حج د مراستمو پر اساس؟! له بدغه مرغه حاکم نظام د اختر په اعلان کې د یوې ورځې په ځنډ سره د نورو مسلمانانو له شهادت سره مغایر عمل کوي او دا ګام یو ډول بې اعتنایي او د اسلامي امت تر منځ تفرقه اچول ګڼل کېږي. لکه څه ډول چې سږ کال په کوچني اختر کې هم دغسې نه دقت او پاشلتوب رامنځته شوی و چې وروسته بیا اصلاح شو.

دیني مراسم خورا حساس موارد دي او پکار نه ده چې د ملي دولتونو د سیالۍ ډګر وګرځي. شرعي اصل هم د مسلمانانو تر منځ د دیني مراسمو پر وحدت ټینګار کوي. لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم چې څرګنده کړې ده چې د دنیا په هره سیمه کې د هر مسلمان لخوا د میاشتې لیدنه شرعاً په نورو اسلامي خاورو کې مسلمانان ملزم کوي چې له هغه سره سم خپل دیني مناسبتونه تنظیم کړي. په دې مورد کې هېڅ مسلمان پر بل مسلمان او هېڅ سیمه پر بلې سیمې غوره‌والی نه لري. په ځانګړي ډول په اوسني عصر کې چې په کم شمېر ثانیو کې د دغه شهادت خبر د نړۍ تر ټولو خلکو رسېږي. که په دې برخه کې ځینې پخوانۍ فتواوې هم شتون ولري، هغه د هغې زمانې د واقعیت او له یوې بلې څخه د سیمو د لرېوالي په دلیل په هغه وخت کې د اعتبار وړ وې. مګر نن ورځ د واقعیت د تغیر په دلیل هغو فتواوو خپل مشروعیت له لاسه ورکړی او استدلال پرې نه شي کېدلی. په حنفي فقه کې هم شرعي اصل د دیني مناسبتونو د پیل یا پای لپاره د دوو عادلو مسلمانانو لخوا د میاشتې د لیدنې شهادت کافي بللی چې دا خبره د فقهي مذاهبو له لوري د مسلمانانو پر وحدت او له تفرقې څخه د اجتناب پر ټینګار دلالت کوي.

له شک پرته دا د الله سبحانه و تعالی رحمت دی چې مسلمانان یې واحد امت ګرځولی او غوښتي یې دي چې مسلمانان د حج، روژې، جهاد، اخترونو او نورو شرعي احکامو په څېر د دیني شعائرو په ترسره کولو کې واحد تقویم ولري او په دې برخه کې له نورو ملتونو څخه ځانګړي وي. ځکه چې شرعي احکامو ټول مسلمانان مخاطب کړي دي، نه کوم ځانګړی ملت یا کومه ځانګړې سیمه.

په واقعیت کې هغه څه چې په امت کې د شرعي احکامو د تطبیق او دیني مراسمو د وحدت خنډ ګرځېدلي؛ هغه د دولت ـ ملت پولې، پر یو بل د مسلمانانو بې‌باوري او د قدرت پر سر سیالۍ دي. دغو عواملو نه یوازې دا چې د امت خوښۍ یې ویشلې دي، د امت غمونه یې هم یو له بله پردي کړي دي. ملي سیاستونو امت دومره له ځانه پردی کړی دی چې حتا نه پوهېږي په سوډان کې څه جنایتونه روان دي، په کشمیر کې څوک وژل کېږي او همدارنګه د غزې قضیه یوازې د فلسطینیانو داخلي قضیه ګڼل کېږي. ډېری د دغه غیر شرعي سیاست د اغېز له امله فکر کوي چې شرقي ترکستان د چین د قلمرو مشروع برخه ده.

هو، د قربانۍ اختر موږ ته ابراهیم (علیه السلام) رایادوي چې د سرښندنې، توکل او الولاء والبراء نمونه ده. نو که غزه لرې ده، تاجکستان خو افغانستان ته نږدې دی؛ هلته د اسلام ضد فرمانونه صادرېږي او زموږ مسلمانې خویندې د «وا معتصما» چیغې وهي؛ خو حکام د سیاسي مصلحتونو پر بنسټ چوپ دي.

نو واجب ده چې مسلمانان د دویم راشده خلافت دولت تر چتر لاندې د فکري، سیاسي او جغرافیوي وحدت لپاره هڅې او مبارزه وکړي، تر څو د دغسې فتنو له شر، لار ورکۍ او تفرقې څخه خلاصون ومومو او د مسلمانانو د خوښۍ او خوشالۍ ورځې له اندونیزیا څخه تر مراکش پورې واحدې او مشترکې شي. یقیناً چې د مومنانو لپاره د خوښۍ له سترو ورځو څخه یوه یې هغه ورځ ده چې د الله سبحانه و تعالی نصرت نازل شي او دویم راشده خلافت قایم شي.

**وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ بِنَصْرِ اللَّهِ ۚ يَنصُرُ مَن يَشَاءُ ۖ وَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ (الروم، 5-4)**

*او په هغه ورځ مومنان د الله په نصرت خوشالېږي. الله هغه چا ته نصرت ورکوي چې خوښه یې شي هغه نه ماتېدونکی او مهربان ذات دی.*

**د حزب التحریر – ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**